DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۶۷۷

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

لسم کال - درپیمه دوره، ۶۷۷مه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۷۴۵د ۱۳۸۸ ل ـ د مرغومي ۲۰ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۲۴ مه د ۲۰۱۰ د جنوری ۱۰ مه

د نوې کابینې ۱۶ نومول شوي وزیران پرون ولسي جرګې ته ور وپېژندل شول

د حامد کرزي د نوې کابینې د ۱۲ غړو نومړو پرون سهار (د مرغومي ۱۹پرمه) ولسي جرګې ته وړاندې شو. چې د ولسي جرګې د باور رایې د ترلاسه کولو په صورت کې به د وزیرانو په توګه دنده پیل کړي.

ولسي جرګې د ولسمشر د نوې کابینې ۲۴ غړیو ته د رایې ورکولو په لومړي پراو کې تر استماعیه ناستو وروسته، د مرغومي پر ۱۲مه، یوازې ۷ وزیران تایید او ۱۷ یې رد کړي وو.

د ولسي جرګې په پرونۍ غونډه کې د بهرنیو چارو د وزیر په ګډون د ۱۲ نوماندو وزیرانو نومړو، د ولسمشرحامد کرزي د دویم مرستیال محمد کریم خلیلي لخوا ولوستل شو.

۳مخ

آیا د لندن کنفرانس به د افغانستان ستونزې هوارې کړې؟

د لنـدن پـه کنفـرانس کـې بـه افغانسـتان پـه څلـورو مهمـو برخـو کـې، د پنځـو کلونـو لپـاره لـه نړیـوالې ټـولنې څخـه د مرسـتې غوښتنه وکړي.

دغـه خبـره، د ولسمشر حامـد کـرزي دوېـم مرسـتیال کـریم خلیلـي د مرغـومي پـر ۱۹مـه، د ولـسي جرګـې پـه عمـومي غونـډه کـې د حامـد کـرزي د نـوې کـابینې د معرفي کولو پرمهال وکړه.

هغـه وویـل، چـې د لنـدن پـه کنفـرانس کـې بـه افغانسـتان د امنیـت او لـه مخـالفینو سره د خبرو اتـرو، اقتـصادي پراختیـا، اداري فـساد پرضـد د مبـارزې او نړیـوالې همکـارۍ پـه اړه د نړیـوالې ټـولنې د مرستو غوښتنه وکړې.

د خلیلـي پـه وینـا، د دې کنفـرانس تـوپیر لـه نـورو کنفرانسونو سره دا دی، چې اجنډا یې افغانستان جوړوي.

د هغـه پـه وینـا، ولسمـشر حامـد کـرزي د وزارتونـو یـو ګډه کمیټـه جوړه کړې ده، چې دغـه کمیټـه پـر هغـو طرحـو کـار کـوي، چـې د لنـدن پـه کنفـرانس بـه د افغانسـتان لـه لـورې وړاندې کېږي.

د خلیلـي پـه وینـا، د ا بـه د افغانسـتان لپـاره یـو نښـه فُرصـت وي، څـو یـو ځـل بیـا د امنیـت، سـولې او بیـارغونې پـه برخـه کـې د نړیـوالې ټولنې مرستې ترلاسه کړي.

هغـه وویـل، چـې د لنـدن تـر کنفـرانس وروسته بـه پـه هېـواد کـې د سـولې د راوسـتو پـه موخـه، د سـولې د یـوې لـویې جرګـې د جوړېدو تابیا ونیول شي.

نومـوړي زیاتـه کـړه، کـه چېـرې نړیوالـه ټولنـه پـه افغانسـتان د خپـل پـوځي لګـښت دربیمـه برخـه پـر افغـان ځواکونـو ولګـوي او پـوځي رهبـري افغـان ځواکونـو تـه وسپـارې، نـو تـر ډېـره بریـده بـه د ملکـي وګـړو د مـرګ ژوبلې مخه ونیول شي.

خلیلـي وویـل: «سـره لـه دې چـې پـه تېـرو څـو کلونـو کـې د هېـواد پـه ټولـو برخـو کـې د پـام وړ پرمختـګ شـوی، خـو دا عـامو افغانـانو او مورښته د منلو وړ نه دی.»

همداشان هغه وویل

اعتراف وزیر خارجهٔ اردن بر نقش عملیاتی کشورش در افغانستان

ناصر جوده وزیر امورخارجهٔ اردن علنا پذیرفت کـه کـشورش نقش ضد تروریستی در افغانستان ایفاء می‌کند و قـصد دارد، این عملیات خود را تقویت کند.

به گزارش خبرگزاری فرانـسه از واشـنگتن، حـضور اردن در افغانستان هفتهٔ پیش به دنبال حملهٔ یک بمب گذار انتحاری به یک قرارگاه نیروهای امریکایی در افغانستان کـه بـه کـشته شدن هفت مامور سیا و یک دستیار اردنی آنان که یک افـسر ارشد استخباراتی و یک عضو خاندان سلطنتی بود، علنی شد.

جوده در جریان یک نشست مطبوعاتی با خبرنگاران به همراه هیلری کلنتن وزیر امورخارجهٔ امریکا روز گذشته گفت: حضور ما در افغانستان امروزه در دو جبهه صورت می‌گیرد.

دیپلومات ارشد اردن گفت: نخست جبههٔ مبارزه با تروریـزم و عوامل ریشه یی تروریزم و در عین حال، کمک به تلاش هـای بشردوستانهٔ مورد نیاز در آنجا.

وی در ادامه افزود: و من دوست دارم بگویم که حـضور مـا در افغانستان در مرحلهٔ بعد تقویت شده و گسترش خواهد یافت.

اردن یکی از نخستین کشورهای حاضر در آنجا بود.

جوده گفت: ما نه تنها بخشی از شبکهٔ کشورهایی هستیم کـه می‌کوشند بـه افغانـستان و افغـان هـا کمـک کننـد، بلکـه می‌کوشند، با ترور و تروریزم مبارزه کنند.

ص۳

سه سرباز ناتو کشته شدند

نیروهای بین المللی حافظ صلح آیساف به رهبـری نـاتو، از کشته شدن سه سرباز خود در مناطق مختلـف افغانـستان خبردادند.

در یک اعلامیه یی که از سوی دفتر مطبوعاتی نیروهای یاد شده؛ دیروز به دسترس رسانه ها قرار گرفت، گفته شده که سربازان مذکور در جنوب وغرب کشور کشته شده اند.

در اعلامیه علاوه گردیـده کـه یـک سـرباز آنهـا بـه اثـر انفجارماین جراحت برداشته بود، که بعداً جان باخت و سرباز دومی در یک حادثهٔ ترافیکی کشته شده است.

گر چه اعلامیه، تابعیت سربازان کشته شده را بیان ننموده؛ اما وزارت دفاع اسپانیا اعلان نموده که یک سـرباز آنهـا در غرب افغانستان کشته شده است.

هسپانیا حدود۷۰۰ سرباز در افغانستان دارد، کـه در حـوزهٔ غرب مستقر اند و تا کنون ۲۷ سرباز آنها کشته شده است.

همچنان سربازان مستقر دنمارکی در افغانستان نیـز اعـلام نموده، کـه یـک سـرباز آنهـا در ولایـت جنـوبی هلمنـد کشته شده است.

ص۳

امریکایی ها می آیند و بریتانیایی ها می روند

روزنامه تایمز لندن نوشت، احتمال دارد، نیروهای بریتانیایی مستقر در ولایت هلمند افغانستان، جای خود را در برخی شهرهای این ولایت به نیروهای امریکایی بدهند.

این روزنامه در شمارهٔ دیروز خـود در انترنت نوشت: با ورود هزاران تن از نیروهای تازه نفس امریکایی بـه افغانستان در چهارچوب استراتیژی جدید بارک اوباما، رییس جمهـور امریکا برای این کشور، قوماندانان نظامی بریتانیا سرگرم بررسی طرح های واگذاری کنترول سـه شهر موسی قلعه، سنگین و کجکی در ولایت هلمند به منطقـهٔ اطـراف لـشکرگاه زنده گی می کنند. اینجا همان منطقه یی است کـه سـربازان بریتانیایی قرار بـود، پـس از استقرار در آن، در سال ۲۰۰۶ تمرکـز خـود را معطـوف آن

سازند، اما بعـدا تحـت فـشار حامـد کـرزی، رییـس جمهـور افغانستان، ایـن منطقه را تـرک کردند. ص۳

تفنگداران امریکـایی هـستند، تـا پـس از آن، نیروهـای بریتانیـایی تمرکز خود را بر مناطق مرکزی این ولایت جنگزده معطوف کنند.

نیروهای بریتانیایی که تاکنون ۲۴۳ کشته در افغانـستان داشـته انـد، بیشترین تلفـات خـود را در ایـن مناطق متحمل شده اند.

بیـشتر جمعیـت هلمنـد در پـنج

طالبان وایي:

د کونړ سلفیان راسره یوځای شول

تاند ـ وسلوال طالبـان وایـي چې په کونړ کې د افغان سلفیانو(وهابیانو) ډله چې تراوسه پورې یې په مستقل ډول فعالیت کاوه، لـه دوی سره یوځای شوي دي.

د طالبـانو لـه یـوې خبرپـاڼې سره سم د سـلفي طالبـانو د دې ډلـې نایـب امیـر او د شـورا یوشمېرغړو ورمه ورځ د طالبانو له مشر ملاعمر سره بیعـت وکـړ او ژمنـه یـې وکـړه، چـې پـه راتلونکي کې بـه پـه کـونړ کـې د مـلا عمـر پـه مشرۍ له طالبانوسره همکاري کوي.

ریچارد هولبروک:

کرزی ټولې ستونزې نشي هوارولی

د افغانستان حکومت یوازې په کرزي پورې منحصر نه دی

د افغانـستان او پاکـستان لپـاره د امریکـا ځـانګړي استازي، د.ولسمشر حامد کـرزي د وروستیو څرګندونو په غبرګون کې ویلي دي، د جګړې ځپلي افغانستان ستونزه په یوه سړي پورې منحصره نه ده.

ریچـارد هـولبروک ویلـي دي، د یـوه داسـې هېواد لپـاره چې وضعیت یې زیات پېچلی دی، د حل لاره یـوازې یـوه نـه ده. دا تمـه بایـد ونشي، چې یو سړی د افغانستان ټولې ستونزې حلولای شي.

د هغه په باور ټول یـوازې پـر کـرزي انتقـاد کـوي، حـال دا چـې ټـول مـسوولیت د ده نـه دی، دلتـه یـو حکومت مطرح دی.

هولبروک چې په واشنګټن کې یې خبرې کولې، ویلي دي، په هغـه وخت چې په افغانستان کې سوله وه، اداره مرکزي نه وه.

هغه وویـل لـه کـرزي سره یـې روابط ښـه دي، ویل کېږي له حامد کرزي سره د هولبروک او د اوبامـا د اداري اړیکـي وروسـته تـر هغـې سـاړه شول، چې تېرې جنجالي ټاکنې وشوې او کرزی ګټونکی اعلان شو.

د امریکا چارواکي فکر کوي، په دغـو ټاکنو کې په پراخه پیمانه درغلي شوې دي.

د ازادي راډیـو د رپـوټ لـه مخـې، د افغانستان او پاکستان لپاره

۳مخ



از خودگرایی تا مردم گرایی

ص۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

نامزد وزیران جدید و روند برگزاری کنفرانس لندن

رییس جمهور کرزی به جای وزیران رد شدهٔ کابینهٔ اش دیروز وزیران جدیدی به ولسی جرگه معرفی کرد. این نامزد وزیران که ۱۴ تن هستند، نامزد وزیر امورخارجه را نیز شامل می شود.

در فهرست نامزد وزیران جدید، شماری از چهره هایی که در کابینهٔ های قبلی آقای کرزی حضور داشتند نیز، وجود دارند، اما بیشتر کسانی هستند که هنوز مدیریت به سطح وزارت را به آزمایش نگرفته، تازه در خط مقام سالاری قرار می گیرند. از شاخص های عمدهٔ دیگری که این فهرست را با فهرست قبلی، (معرفی کابینهٔ جدید) متمایز می سازد، حضور پررنگ زنان در این کابینه است؛ چنانکه در این لست، سه تن از چهره های نه چندان شناخته شدهٔ زن نیز دیده می شوند که شاید رییس جمهور این گام را در پاسخ به اعتراض های گسترده یی که بعد از معرفی کابینهٔ جدید مبنی بر کمرنگ بودن حضور زنان در این کابینه به راه افتاده بود، برداشته باشد. افزون براین، در این فهرست هنوز نامزدانی برای وزارت خانه های مخابرات و آب و انرژی به چشم نمی خورند، باورهایی وجود دارد، شاید نامزد وزیرانی (امیرزی سنگین و اسماعیل خان) که در فهرست کابینهٔ جدید که بار نخست به پارلمان معرفی شده بوده، باردیگر به این سمت ها قرار گرفته و به پارلمان پیشنهاد شوند.

قرار اظهارات مقام های ولسی جرگه، نماینده گان شاید روند بررسی اسناد و صلاحیت های وزیران تازه پیشنهاد شده را از امروز و کار سمع برنامه های کاری آنها را سر از تاریخ ۲۱ جدی آغاز نمایند. گفته می شود، این پروسه ممکن یک هفته را در بر بگیرد و وکلا شاید روز شنبهٔ آینده، روند رای گیری به نامزد وزیران جدید را سپری نمایند.

به هرصورت، از اینکه اکثر نامزد وزیران جدید، چهره های ناشناخته و غیرمطرح اند و گذشتهٔ کاری شان نیز چندان روشن نیست، هنوز نمی توان در مورد میزان کارآیی، تخصص و صداقت شان قضاوت دقیق کرد، اما شماری هستند که در کابینه های گذشته نیز از اعضای تیم کاری آقای کرزی بوده که دسترسی به کرده ها و ناکرده های گذشتهٔ شان چنان دشوار به نظر نمی رسد. به هر حال، این وظیفهٔ نماینده گان ولسی جرگه است، که با بررسی و ارزیابی دقیق از اسناد، فعالیت ها و برنامه های کاری نامزد وزیران جدید، با درنظرداشت معیارهای مشخص، پیشینه ها و رابطه های کاری و گروپی آنان را در میزان آزمایش قرار داده و ادای مسوولیت نمایند. در این راستا باید تنها و تنها منافع ملی و کشوری مدنظر باشد و طوری توقع و امید مردم است، عمل نمایند.

از سوی دیگر، نماینده گان ولسی جرگه این موضوع را نیز باید در نظر داشته باشند که برای برگزاری کنفرانس لندن روزهای کمی باقی مانده است، قرار است، این کنفرانس در اواخر ماه جاری (جنوری) برگزار شود، کنفرانسی که گفته می شود، استراتیژی ها و برنامه های گذشته در آن مورد ارزیابی و آیندهٔ کاری مشخصی برای پیشرفت ها و انکشافات در نظر گرفته خواهد شد. بنابراین، اگر رییس جمهور کرزی طی چند هفته آینده در تایید صلاحیت کابینهٔ خود ناموفق باشد، باید با دست خالی در کنفرانس کشورهای کمک کننده به افغانستان در لندن حاضر شود. در این صورت کرزی که در تلاش برای اخذ کمک های بیشتر از جامعهٔ جهانی است قادر نخواهد بود، افرادی را که مسوول هزینه کردن این کمک ها خواهند بود، در کنفرانس لندن معرفی کند.

از خودگرایی تا مردم گرایی

نگارنده: م .ن. هیکل



خودگرایی در ظاهر امر، ممکن است با فردگرایی اشتباه شود، در حالی که تفاوت هایی را می توان میان این دو شناسایی کرد. نخستین و مهمترین تمایز میان این دو عبارت از این است که فردگرایی به صورت صریح به فرد اشاره دارد؛ در حالی که خودگرایی را می توان هم به فرد و هم به بازیگر جمعی و گروپی به کار برد. موضوع مورد بحث در اینجا این نیست که در مورد این دو، به فلسفه گویی بپردازیم، بلکه نقش خودگرایی در انجام وظایف و مکلفیت ها می باشد، چه این مکلفیت ها به فرد یا سازمان تعلق داشته باشد، یا به واحدهای ملی و دولتی مانند نهادهای امنیتی و اداره های حکومتی که وظیفه و مکلفیت عرضهٔ خدمات را به مردم بر عهده دارند.

ممکن است، از خود بپرسیم، از یکسو در شرایط دشوار زنده گی کنونی و در روشنایی تجارب تلخ دهه های جنگ و از سوی دیگر، در حالتی که فرد هموطن به حال خود گذاشته شده و خود باید شکار کند و نوش جان نماید، ساختارهای حکومتی چه وظایف و مکلفیت هایی دارند؟

افلاطون، سقراط و ارسطو نه تنها سال ها پیش در این رابطه سخن گفته اند، بلکه دانشمندان معاصر نیز در این راستا موهای سر ریخته یا سفید کرده اند. در جامعهٔ ما نیز سنگ خدمتگزاری به مردم را به سینه می کوبند. یک سوالی که از سال های گذشته پرسیده می شود این است که چرا نهادهای حکومتی نتوانسته اند، کاری برای مردم انجام دهند؛ در حالی که افراد و موسسات غیرحکومتی تا حدی موفق بوده اند؟ ما در مورد امنیت سخن نمی گوییم، زیراحکومت برای تبریهٔ ناکامی خود از ناکامی قوای بین المللی سخن خواهد گفت.

سوال بعدی این است که چرا نهادهای حکومتی از آنانی می ترسند که مدعی اند، از میان آنها برخاسته اند و از آنان نماینده گی می نمایند. مثال های فراوانی را می توان از خودگرایی این نهادها نام برد.

از پارلمان کشور آغاز می نماییم که آن را " خانهٔ ملت" نام نهاده اند. رفتن به داخل پارلمان همانقدر دشوار است که رفتن به بگرام است. سرزوری روزانهٔ تعدادی از وکیلان در راه ها و برخورد آنان با پوسته های امنیتی پولیس بر همه آشکار است. خانهٔ ملت را نماینده گان ملت با برج و بارو از ملت جدا کرده اند و ملاقات کننده گان به وسیلهٔ افراد به محل مربوط به اصطلاح همراهی یا اسکورت می شوند، تا مبادا به دفتر دیگری بروند.

موسسات امنیتی و وزارت خانه ها نیز خود را هر روز با دیوارهای کانکریتی محاصره می نمایند. این حقیقت نه تنها گویایی این است که نهادها به حفاظت خود بیشتر از حفاظت مردم اهمیت می دهند، بلکه بیانگر این حقیقت نیز است که به جای قرار گرفتن در خدمت مردم، در خدمت خود قرار گرفته اند. مهمتر از همه این خودگرایی سازمان های حکومتی برای مردم بیچاره دشواری هایی را فراهم آورده است. در ادارات با آنان به حیث افراد مشکوک برخورد می گردد، راه رفت و آمد آنان یا در برخی از موارد مسدود گردیده و یا طولانی ساخته شده است. در تهیهٔ مسکن، آغا زاده یی برای امنیت شخصی خود، ملکیت عامه را در خدمت امنیت شخصی خویش قرارداده است و حوزهٔ امنیتی هفدهم (ریاست عمومی امنیت) سرک راهرو باشنده گان را با موانع اشغال کرده است.

در گذشته چنان معمول بود که محلات بودوباش را با حصارها مصوون می ساختند و قریه و قلعهٔ ارباب، خان و ملک و یا بارک های نظامی و همچنان شهرها می توانستند برج و بارو داشته باشند. امروز گذشته ها در عبا و قبای جدید تبارز کرده. همهٔ ادارات و نهادها به محاصرهٔ خویشتن نپرداخته اند، در حالیکه تعداد زیادی از آنها چنین کرده اند.

اکنون این سوال را می توان مطرح کرد که چرا نهادهای امنیتی قادر به تامین امنیت خود نیستند؟ و آیا جز اعمار حصارها و محاصرهٔ خویشتن با برج و بارو راه دیگری وجود ندارد؟ وزارت اطلاعات و فرهنگ جمهوری اسلامی در دو متری دفتر جناب وزیر، دروازهٔ کنترول برقی اعمار کرده و یک مسوول امنیتی نیز، با وسیلهٔ برقی دیگری برای کنترول مجدد توظیف شده است. این همه ممکن است، این احساس را در تصور زنده کند که نهادهای حکومتی در میدان یک جنگ اعلام شده، خیمه زده اند.

تعداد آنانی که از مردم خود را نگه می دارند نیز، اندک نیست. آنها نه تنها خود را در محاصرهٔ افراد معین قرار داده اند، بلکه خود را از دیگران نیز جدا ساخته اند؛ در حالی که مدعی مردمی بودن و خدمتگزاری نیز می باشند. آنها چرا از آنانی می ترسند که که جز از تحمل آزار و اذیت کار بیشتری نمی توانند داشته باشند؟

این اقدامات منفی نه تنها مبین خودگرایی است، بلکه بعد حقوقی نیز دارند.

وقتی مرزها میان ملکیت عامه و خصوصی، دولتی و غیر دولتی مشخص می گردد، برای تنظیم این مرزها و روابط میان آنها و مناقشات ناشی از آنها، قوانین وضع می گردد. زمانی که حدود مالکیت ها تعیین می گردند و ملکیت عامه و خصوصی از هم متمایز می گردد، حقوق مالکیت محدود و معین می گردد و صلاحیت ها و حقوق ناشی از حق مالکیت به محدود مالکیت محدود می شوند و بر همین مبنا، عدول و تخطی از این حدود، نقض حقوق دیگری تلقی می گردد.

مردم حق دارند، از سرک ها و پیاده روها استفاده نمایند؛ در حالی که در شهر کابل، تعداد راه ها و سرک هایی که به روی مردم مسدود شده است، اندک نیست. برخی برای امنیت شخصی و باز برخی برای تامین امنیت سازمان یا موسسهٔ خویش سرک ها را به دروازه های نظام قراول تبدیل کرده اند. حتا تلویزیون های طلوع و لمر از فرصت و امکانات دست داشته برای تامین امنیت خود شان بهره برده اند، در حالی که آنها کرایه نشینان منازل شخصی اند.

به یاد دارم که در دشت چمتله جایی که عده یی از هموطنان برای اعمار سرپناه زمین خریداری کرده بودند و به کار اعمار آغاز کرده بودند، توسط پوستهٔ امنیتی وزارت دفاع به باج دهی (حق التعمیر) مجبور می شدند، زیرا استدلال می شد که این محل به وزارت دفاع مربوط است و اجازهٔ ساختمان وجود ندارد.

در شهر کابل، پیاده روها اکثر به وسیلهٔ دکانداران و دستفروشان اشغال گردیده اند. نگارنده نمی تواند باور نماید که قانون ترافیک همچنان اصول شهرداری در مورد جاده ها و راه ها و پیاده روها خاموشی اختیار کرده باشد.

در حالی که خودگرایی را در شهروندان نیز می توانیم با صراحت دریابیم، خودگرایی افراد عادی که از خلای قانونی استفاده ص۳

سیاسي هټیوالي؟!

د دلاور نظیرزوی لیکنه

تر ډېره بریده سیاست د ګوند له لارې پرمخ بېول کېږي، خو په ځینو وختونو کې دلته بې ګونده سیاسي مبارزه هم ترسره کېږي. خبره د ګوندونو رامنځته شوه، دلته خبره له ګوندونو وتلې ده، ځکه هرځوک جلا جلا ګوند لري. دې وګړو یووالی کړی دی، چې موږ به جلا جلا سیاسي کړنلارې لرو. دلته سیاست څه دی بس یوه هټۍ ده، دی اوهغه چې سره جوړ شي، نو هغه بل دې خپل کار کوي، ستا سیاست اود هغه سیاست به پر ګډو ګټو راځرخي، ملت به خپل کار کوي، هېواد به هم خپل کار کوي، دومره څوکی د ده او دومره بې د هغه!

یره خبره خو مو سمه ده، په یوازې ځان خو نه کېږي. راځه نور به هم له ځان سره یوځای کړوکه څنګه؟

- دادې سمه مشوره راکړه! څوک او څوک دې نور وي؟ یو نوملړ به جوړ کړو او هر یوه ته به یوه یوه څوکی ورکړو، مانا داچې ... حکومت به وي! سمه ده. وروسته تر څو ورځو ... ادلون بدلون څخه!

- نوملړ جوړ شو؟

- هوکې!

نوملړ جوړ شو خو له څوکیو څخه د ګوندونو شمېره زیاته ده، څه پروا کوي، پر څوځو ګوندونو دې یوه یوه څوکی ووېشل شي، اووه کوم یو بې برخې شو، نو د سلاکار څوکی خو شته چې په یوه شببه کې جوړېږي! ډېرښه، واوره! ... که سره نه جوړېږي ورته ووایه چې پچه دې پرې واچوي څه خبره ده؟!

هو! بناغلیه!

خو؟!

- خو په څه مانا؟!

- دلته خو نه ځینې سیاستوال نه هم ګوندونه ټیکاو لري او یوه ته یې دنده ورکړه او بل دې په مخالف پل کې وي. ګوندونه هم، له منځې او سیاستونه هم بې له هغې، ځکه هر سیاسي وګړی د یو جلا ګوند لرونکی دی او دې دومره ډېرو ګوندونو ته څوک څوکی ورکولای شي دلته خو پر سیاسي ګوندونو سربېره هغه او دغه ګوندونه او ټلوالي هم شته!

تاسو له ځانه داخبره جوړوئ. که کوم لاسوند لرئ وراندې یې کړئ؟

- داسې کوم لاسوند نشته. خو لکه څنګه چې په څرګنده لیدل کېږي، قومي او تېرنۍ ګوندونه، ځایي او ولایتي ګوندونه، جګړه ییز هغه، شخصي ملګري یې بل ګوند، د ملګرو او انډیوالانو، انډیوالان یې بله ټلواله، پسې ورتېر شه صیبه! د ډکتورینو ډلګی. د هغو او دغو کورنیو او په ډېرې بښنې سره نوم به یې نه اخلم) ټکی ټکی او ټکی! نه نه نوم یې واخله! هو بهرنۍ فشارونو ټلوالي، د بد ماشانو ټل نور به نه وایم!

- ادامه ورکړئ...

- په نوم یې شرمېږم!!

- هیله کوم اوس خو خپلو کې یو...

- د اداري فساد ټلواله!! او نور به بیا بل وخت رابرسېره کړو، ځکه لږ څه ځېرنې ته اړتیا لري!!

اوه ... خدایه دا څه بدې بلاوې ترې راتاو دي. دا خو سم دم(سهامي شرکت) دی!!

- چې شه چاته مه وایه!!

- غوږ شه چې د سیاسي ګوندونو په اړه مې یو چورت وواهه، چې له تاسره یې هم شریک کړم

- مهرباني وکړئ!

ته یوبل کار وکړه یوه مقرره به جوړه کړو، چې د هغوسیاسي ګوندونو چې مرامونه یې له نورو سره یوډول وي باید او باید، یوتربله سره یوځای شي... خو، شاید او شاید چې؛ ۳مخ

اوباما؛ ریس جمهوری که به تعیین ...

کمیته‌های بررسی سنا و کنگره قرار نگرفته است.

در سیاست امنیتی نیز اوباما از اهداف بلندپروازانه‌یی سخن به میان آورد که بیشتر آن‌ها در زمان اعلام شده توسط اوباما عملی نخواهد شد. برای مثال اوباما در حالی از پایان مذاکرات امریکا و روسیه در مورد انعقاد قرارداد جدید کاهش سلاح‌های استراتیژیک در ۵ دسمبر خبر داد که این مذاکرات در سال ۲۰۰۹ به نتیجه نرسید و به سال آینده، موکول شده است.

اوباما در حالی از اعزام ۳۰ هزار نیروی اضافی به افغانستان خبر داد و در حالی اعلام کرد که این نیروها باید تا تابستان آماده گی حضور در افغانستان را داشته باشند که مایکل مولن اطمینان دارد که ۱۶ هزار تن از نیروهای امریکایی تا جولای وارد افغانستان خواهند شد و تمام نیروها نیز حداکثر از ماه نومبر سال ۲۰۱۰ به بعد آماده گی حضور در افغانستان را خواهند داشت. در صورتی که چارچوب زمانی تعیین شده توسط اوباما طبق اظهارات مولن بۀ بعویق افتد، جدول زمانی خروج نیروها نیز با مشکلاتی روبرو خواهد شد.

به هر حال، اکنون برخی مفسران نسبت به این که اوباما بهای سنگینی را بابت موعدهای زمانی سبکسرانه و نسنجیده‌اش بپردازد، هشدار می‌دهند. از ریچارد نویشتات به عنوان یک مورخ نیز این جمله به جا مانده است که فردی که در کاخ سفید حضور می‌یابد، قبل از هر تصمیم گیری باید از تاثیرات آن بر وضعیت آیندۀ خود آگاه باشد. وی اگر موعد زمانی را مشخص می‌کند، باید از عملی شدن آن اطمینان داشته باشد. در غیر این صورت، دنیا در مورد وی به قضاوت خواهد نشست و این طور نتیجه گیری خواهد کرد که رییس جمهور اشتباه کرده است و اگر موعدهای مشخص شدۀ بسیاری تعیین کرده باشد و آن‌ها همه منقضی شوند، در این صورت، دنیا وی را متهم به انجام خطاها و اشتباهات بسیاری خواهد کرد.

امریکایی ها می آیند و بریتانیایی ...

کرزی خواهان آن بود که پرچم افغانستان در شهرهای دور افتاده یی مانند نوزاد و گرمسیر در هلمند به اهتزاز درآید. از آن پس خشونت در این مناطق افزایش و کنترول دولت در خارج از مراکز منطقه، تنزل یافت.

بر اساس استراتیژی ضد شورش جدید جنرال استنلی مک کریستال، قوماندان نیروهای امریکایی در افغانستان، سربازان ناتو تمرکز خود را از مبارزه با شورشیان به محافظت از مردم غیرنظامی معطوف می کنند.

مقام های نظامی بریتانیایی گفتند، قوماندانان اردوی این کشور آماده اند، کجکی و موسی قلعه را ترک کنند. اما آنها چندان تمایلی برای ترک شهر سنگین ندارند؛ زیرا این منطقه اهمیت نمادین دارد و واگذاری کنترول این منطقه به نیروهای امریکایی، تصویر عقب نشینی بریتانیایی ها از بصره را در ذهن متبادر خواهد ساخت.

سه سرباز ناتو کشته ...

سربازان دنمارکی در هلمند مستقر اند و تا کنون ۳۱سرباز شان کشته شده اند.

این نیروها گفته که در نتیجۀ انفجار مذکور پنج تن از سربازان شان جراحت شدید برداشته است که حالت صحی آنها نگران کننده خوانده شده است.

آیساف روز گذشته، از کشته شدن یک سرباز امریکایی خود نیز خبرداده بود.

از طرف دیگر، طالبان مسلح از کشتن شمار زیاد از سربازان خارجی در ولسوالی نادعلی ولایت هلمند و ولایت فراه ادعا دارند.

از آغازسال جاری میلادی بدینسو در مناطق مختلف کشور، ۸ سرباز خارجی کشته شده اند؛ این در حالی است که سال گذشته، ۵۲۰ سربازخارجی کشته شده بودند که اکثریت آنها امریکایی بودند.

اعتراف وزیر خارجۀ اردن بر نقش ...

وی اظهار داشت: ولی ما در عین حال برای دفاع از منافع ملی اردن .... دفاع از اردنی‌ها و حفاظت از آنان در برابر تهدیدهای فزاینده در آنجا هستیم.

در پی حمله به قرارگاه نیروهای امریکایی در ولایت خوست، دیپلوماتان غربی افشای مشارکت اردن در یک عملیات استخباراتی امریکا را در افغانستان، ضربه‌یی به دولت عمان دانستند .

از خودگرایی تا مردم ...

می نمایند و خودگرایی مقام های مسوول از هم متمایز اند. در حالی که نیاز به دولت و حکومت از همین جا ناشی می گردد، تا نظم را در مناسبات اجتماعی به وجود آورد و به حل مناقشات بپردازد، خودگرایی مقام های مورد بحث در نقطۀ مقابل آن قرار دارد.

این نمونه هایی از برخورد نهادهای حکومت افغانی با خود و با افغان هاست وبر بنیاد آن، تمایز میان خودگرایی و ملت گرایی را می توان با صراحت درک کرد.

کرزی تولې ستونزې نشي ...

د امریکا خانګرې استازي ویلي دي، که څه هم کرزي ژمنه کړې، چې نسه کار به کوي، خو یو سړی په یوازې سر نشي کولای په افغانستان کې اداري فساد ختم کړي.

هولبروک ویلي، اداري فساد په افغانستان کې یوه غټه ستونزه ده، د نړۍ هیوادونه په خانګړې توګه امریکا کولای شي دا ستونزه حل کړي، ځکه د حکومت د رهبرۍ مسوولیت لري.

هغه وویل، مونږ پر حامد کرزي زیات تمرکز ځکه کوو، چې دی په انګرېزۍ ښې خبرې کولای شي، جذاب شخصیت لري، په تېرو اته کلونو کې یې د امریک د نظریو پلوي کړې، خو د افغانستان حکومت یوازې په کرزي پورې منحصر نه دی.

هغه وویل چې له حامد کرزي سره ټینګ کاري اړیکي لري، ده ته ډېر احترام کوي او د افغانستان قانوني او منتخب ولسمشر یې ګڼي.

هولبروک ومنله، چې د اوباما تر تاکل کېدو مخکې یې ځینې لیکنې وکړې، چې دې کار له کرزي سره د هغه روابط ساړه کړل

ویل کېږي له تېرو تاکنو وروسته په کابل کې د ریچارډ هولبروک او کرزي ترمنځ جدي خبرې شوې وې

د نوې کابینې ۱۶ نومول شوي وزیران ...

په نوي نومړو کې د اوبو او برېښنا او مخابراتو وزیران نه دي تاکل شوي او خلیلي وویل، چې ډېر ژر به ولسي جرګې ته ور وپېژندل شي.

د نویو وزیرانو نومړو، چې ټول وزیران نوي او دري تنه ښځې په کې شاملې دي، په دې ډول دي:

۱- د بهرنیو چارو وزارت، ته، ډاکټر زلمی رسول
۲- د عدلیې وزارت ته، اِستاد حبیب الله غالب
۳- د لوړو زده کړو وزارت ته ډاکټر محمد هاشم عصمت الهی
۴- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته ډاکټر محمد یوسف نیازی
۵- د فوایدعامې وزارت ته، انجنیر محمد بشیر لعلي
۶- د عامې روغتیا وزارت ته ډاکټر ثریا دلیل
۷- اقتصاد وزارت ته عبدالهادي ارغندیوال
۸- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ته محمد هادي حکیمي
۹- د کلیو پراختیا وزارت ته جارالله منصوري
۱۰- د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت ته آمنه افضلي
۱۱- ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت ته انجنیرعبدالرحیم اوراسي
۱۲- د ښځو چارو وزارت ته پلوشه حسن
۱۳- د کډوالو او بېرته راستنېدونکیو وزارت ته انجنیر عبدالرحیم
۱۴- د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت ته ارسلاجمال
۱۵- د نشه یي توکو پرضد مبارزې وزارت ته، انجنیرضرارا احمد مقبل
۱۶- د بناري پراختیا وزارت ته انجنیر سلطان حسن ایثاري

د ولسمشر دویم مرستیال کریم خلیلي د دغو نوماندو وزیرانو د معرفي کولو پرمهال وویل، چې دوی دکابینې د پخوانیو نوماندو وزیرانو په اړه د ولسي جرګې د تایید او یا ردولو د پرېکړې احترام لري.

خو زیاته یې کړه، چې په دغه پروسه کې څنډ د حکومت چارې څنډنی او منفي تاثیر پرې کوي او هیله یې وښوده، چې د جرګې وکیلان به، په پوره دقت د دغو نویو وزیرانوپه اړه، پرېکړه وکړي.

یاده دې وي، چې د مرغومي پر ۱۲مه، د ولسي جرګې لخوا د ۱۷ وزیرانو تر ردېدو وروسته، ولسمشر حامد کرزي نوې کابینې ته د رایې ورکولو په موخه د یوه فرمان په صادرولو، له ولسي جرګې څخه د کاري دورې د اوږدولو غوښتنه کړې وه.

د پڑواک د رپوټ له مخې، کرزي د لړم پر ۲۸مه د نوي ولسمشر په توګه د وفاداری د لوړې په مراسمو کې ویلي و، چې د افغانستان وزیران باید باتقوا، متخصص او د خلکو خادم وي.

د ولسي جرګې مشر محمد یونس قانوني په پرونۍ غونډه کې وویل، چې د نویو نوماندو وزیرانو د زده کړو اسناد به وخېړل شي او استماعیه غونډو ته د هغوی راتلګ به، د مرغومي پر ۲۱مه (دوشنبه) پیل شي.

سیاسي هټیوالي...

- هغه څنګه؟

- صیب د ګوندونو د مرامونو یو پراګراف له بل هغه سره سمون نه خوري، ځکه هر مرام له ځانګړې اندېوهې یا ایډیالوجي سرچینه نه اخلي، بلکې هر پراګراف د هر جلا وخت لپاره جوړ کړی وي، لکه یو څوک چې کومې دندې ته ځان کاندیدوي، نو خپل پېژندلیک د همغې دندې له شرطونو سره سم جوړوي. خبره خو دې سمه وه، که چېرې سره یو ځای شي، نو سردردي پیدا کوي.

همدا سي ځانځاني یې نسه ده او مانول یې زور غواړي!

- دادی د یو ګوند غړی د ټلیفون پرلیکه دی، د ګوند نوم یې څه دی؟ نوم یې ډېر اوږد دی، ما داسې فکر وکړ چې د نوم پرځای یې د ګوند مرام ووایه! نسه په هره توګه ورسره وبه غږېږو! ډېر نسه... نسه نباغلیه څه وایې؟

- ستاسو تګلاره مې خوښه شوه، زمونږ ګوند ستاسو د تګلارې په مخالفت کې دی، خو زه غواړم چې له تاسو سره یوځای شم! خو،

- هرکله راشه...

- وښئ چې څه مو ویل؟

- هوا غوښتنې لرم.

- ګوره یوه مهمه غوښتنه وکړه؟

- ډېرې غوښتنې لرم، خو سملاسي به یې پرېږدم، خو یوه بنسټیې غوښتنه مې داده، چې که وزارت وي، نو چمتو یم.

- د وزارتونو نومړو بشپړ شوی دی.

- که د والي په توګه ...؟!

- والیان هم بشپړ شوي!

- خو په هر صورت یوه مناسبه دنده چې وي زه چمتو یم چې ترسره یې کړم!!

- تر لږ ځنډ وروسته؛ ومو نه ویل چې مسلک موخه شی دی؟

- ځانګړی مسلک مې معلوم نه دی، ځکه نژدې په زیاتره علومو کې مې زده کړې کړې، خو د ګوندونو په چارو کې ځانګړې پوهه او تجربه لرم!

- ډېر نسه د سیاسي ګوندونو د زیاتولو، رنګولو، جوړولو، یو ځای کولو او لنډه داچې د سیاسي ګوندونو په برخه کې ستر سلاکار وتاکل شوې، مبارک دې شه!!

- مننه نور نو یې ماته پرېږده!

- ګوره ګوندونو دې هېواد ته ډېر زیانونه اړولي دي!! ستا دنده به داوي چې ګوندونه او د هغو سیاستونه وڅېړې.

او یوه بله خبره! ته پوهېږې چې په سیاست او ولسواکۍ کې د ګټې الټې یا سیاسي پلورالیزم اصل شته؟

- یره له دې دومره تجربې سره دغه نومونه مې اوس تر غوږ شول!!

- که لږ څه رنا پرې واچوئ؟

- په لنډه توګه به یې درته وایم... بس تکړه شه په هرګوند کې به ګوندونه او په هغې کې به ګوندګیو کې کورکي جوړوي او بس خپلې ګټې لټوه، د هټیوالي لړۍ همدا سې غځېدلې ساته... نور به بل وخت درته وایم اوس نو ته خبر یې چې له بناغلو ... سره په دې اړه یوه ناسته لرو، چې څنګه خپلې سیاسي هټۍ ته بازار موندنه وکړو، له همدې سره (نسه په کړس کړس خندا او لاس ټسی روغبې!

هی هی! دوی به ترڅو پورې د ولس په سترګو کې خاوري ورشیندي، ترڅو به ورته پر ټپونو مالګې دوړوي، څه به یې درته اوږدوم، بس دوی به هم د هغوی په څېر خپل پېرتېر کړي.

آیا د لندن کنفرانس به د افغانستان ستونزې هوارې ...

د لندن په کنفرانس کې به له نړیوالې ټولنې څخه د کلیو د پراختیا، اوبو او برېښنا، کرنې او کانونو په برخه کې د پانګې اچونې غوښتنه وشي.

تاکل شوې ده، چې دغه کنفرانس د ۲۰۱۰زېږدې کال د جنوري پر ۲۸مه، جوړ شي.

د پڑواک د رپوټ له مخې، د هېواد یو سیاسي تحلیلګر استاد سیف الله سیحون په دې اړه وایي، دغه شان کنفرانسونو د افغانستان ستونزه نه ده هواره کړې، بلکې ستونزې یې لا نورې هم زیاتې کړې دي.

هغه وایي، هغه مهال د افغانستان ستونزه هوارېدای شي، چې په هېواد کې د امنیت د راوستو، د سولې د ټینګښت او اقتصادي پرمختګ لپاره یوه ملي مفکوره رامنځته شي.

د سیحون په وینا، نړیوالې ټولنې ته د افغانستان د پرمختګ په پرتله، د هغوی د دښمنانو له منځه وړل اړین بریښي، ځکه د دې برخې په پرتله په هغه برخه کې لوړ لګښتونه کوي.

د یادونې ده، چې تردې وړاندې هم د بُن، توکیو، لندن او پاریس کنفرانسونه د افغانستان د ستونزې د حل په اړه جوړ شوي دي.

د افغانستان لپاره د کای ایډې پرځای یو سوېلنی د استازي په توګه تاکل ګېږي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي کای ایډې کاري دوره په تمامېدو ده او تاکل شوې، ډېر ژر د هغه پر ځای یو بل استازی وتاکل شي.

د فرانسې خبري اژانس په حواله، یوه امریکایي ډیپلومات ویلي دي، چې ملګري ملتونه یو سوېلنی ډیپلومات د ایډې پر ځای تاکي.

د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي ریچارد هولبروک یوې امریکایي مجلې ته په مرکه کې ویلي دي، چې ملګري ملتونه غواړي خپل یو تجربه کاره او باسابقه سویلنی ډیپلومات ستېفن ډي میستورا د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي په توګه وتاکي.

بناغلي هولبروک د جمعې په ورځ په واشنګټن کې له فارن پالیسي مجلې سره په خبرو کې ویلي دي، چې د بناغلي ډي میستورا د تاکل کېدو هرکلی کوي او په دې تمه دی چې نوموړی ژر خپل کار پیل کړي.

د بناغلي هولبروک په وینا، ډي میستورا د امریکا پوره ملاتړ له ځان سره لري، خو د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ویاند مارتین نیزیرکي دا خبر رد کړ، چې ګواکې د ملګرو ملتونو عمومي منشي بانکي مون په دې اړه وروستۍ پرېکړه کړې ده.

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د اوسني ځانګړي استازي نارویژي ډیپلومات کای ایډې کاري دوره په مارچ میاشت کې پای ته رسېږي. د برېتانیا صدر اعظم ګورډن براون ویلي، چې د بناغلي ایډې ځاینناستی به د لندن په کنفرانس کې معرفي شي، چې دغه نړیوال کنفرانس د افغانستان د مسایلو په اړه دی او تاکل شوې چې د جنورۍ پر اته ویشتمه جوړ شي.

پر کای ایډې د هغه مرستیال امریکایي دیپلومات پیټر ګالبریت انتقادونه کړي، چې ګواکې بناغلي ایډې په تېرو ولسمشریزو تاکنو کې د شوو ادعاوو پر وړاندې فعالانه عمل نه دی کړی.

ډي میستورا په تېرو دېرشو کلونو کې د نړۍ په ناامنو سیمو کې کار کړی او تېر کال یې په عراق کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي په توګه خپله دوه کلنه کاري دوره بشپړه کړه.

د تاند وېبپاڼې د رپوټ پر بنسټ، نوموړی له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۴ زېږدې پورې په لبنان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی و، دغه راز یې په سومالیا، بالکان او نیپال کې هم کار کړی.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې په خپله یوه سرمقاله کې چې تېره اونۍ خپره شوه، وړاندیز کړی چې ملګري ملتونه باید فرانسوی ډیپلومات ژان ماري ګوینو د کای ایډې پر ځای وتاکي، چې نوموړي په خوا د ملګرو ملتونو د سوله ساتو پوځونو قوماندان و.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې ډي میستورا دروند شخص بللی، خو د هغه د کار د ډول او اداري تصوراتو په اړه یې اندېښنه ښوولې او لیکلي یې دي، چې ډي میستورا به په داسې حساس پراو کې د افغانستان لپاره نسه استازی نه وي.

نوی کال، او امنیتي خم پیچونه!

لومړی برخه

امان الله ایمان

د افغانستان د امنیت شورا پرون یوې خبرې رسنیو ته لاره کړې چې ددوی له قوله، د ملاعمر له لاسه واحده قوماندانه وتلې او په دریو لویو برخو ویشل شوې. شورا زیاتوي، اوس د طالبانو درې لویې قوماندې دي چې یوه په میرانشاه، په پېښور او بله په کوټه کې ده. شورا دا خبره نه ده کړې چې له ملاعمر پرته د دوو نورو شوراګانو مشري د کومو طالب مشرانو پر غاړه ده، خو د امکان تر حده کیدای شي چې دوهم یې ملاحقاني وي. دغه ډله له فکري تړاوه تر القاعده پورې ډیره تړلې او عملیات یې هم ډیر د القاعده په شان دقیق او پیچلي وي. ددغه شبکې فعالیتونه د وزیرستان په سیمه کې ورځ تر بلې غځ کوي. د مالوماتو له مخې، ددغه ډلې مشري اوس د جلال الدین حقاني زوی، سراج حقاني کوي. ددغه ډلې بریالي رهبري د سراج په پوره درایت ګواه ده چې د پلار وفات شوی نوم یې نن بیا د غربي رسنیو سرلیکونه ټاکي. دا خبرې تر اوسه کومې د طالبانو مرجع تایید کړې نه دي او تر اوسه پورې عملا هم داسې څه نه دي لیدل شوې چې د امنیت د شورا د خبرو صدق دې سل په سله کې وکړي، خو تیرو ته په کتو، ښایي په دغه خبره کې د تبلیغاتو مالګه یو څه ورزیاته شوې وي. او ښایي دا ډول خبرې تر ډیره تبلیغاتي اړخ ولري نسبت و حقیقت ته. سراج یو قوي هیکله ځوان چې د خپل پلار تر رهبرۍ لاندې یې خپلې د رهبرۍ چارې له ستونزو پرته له سراج په سر زیاتې ډالرې جایزه ایښې ده. ښایي د ملا سراج زیاتره مالي منابع هم د القاعده له لورې خرڅوبیږي. ددغه ډلې فکري او فزیکي تړاو نسبت نورو ته، له القاعده سره زیات دی. که چیرې د امریکایي یا بهرنیو پوځونو د وتلو نیټه مشخصه هم شي او طالبان خبرو ته راکش شي، دا به له امریکا سره بخت زیاته یاري کړي وي چې دغه سړی دې هم په سړه سینه له افغان دولت سره خبرې اتري ومني. القاعده سره همغږې روانې دي، دی د څوکې لیونی نه دی خو دې ته یې نیمه ینه نشته چې د امریکا پر وړاندې څنګه یوه همغږې او خوله ماتوونکې جبهه ټینګه کړي. خو په ټوله کې تر اوسه داسې څرک نه دی تر سترګو شوی چې د ملاعمر د فرمان نه پکې سرغړونه تر سترګو شي. ملاسراج د امریکا یو قسم خورلی دښمن دی چې پر امریکا له هیڅ راز ګوزار نه ډډه نه کوي. ملاسراج د خپل پلار نه په پوره ملاتړ خپله د پلار ډله په دې وروستیو کې له لوړ شهرت نه برخمنه کړه. کله چې یوه اونۍ وړاندې په خوست کې د یوه اردني له خوا د امریکا په قراردادي جاوسوسانو یو مرګونی برید وشو او د زیاتو ټپیانو په شمول یې اته کسه ور ووژل، د امریکا او نړۍ پام یې تر پخوا هغو زیات ځانته راواړوه، امریکا وایي که ددغه ډلې له دغه اردوني سره تړاو ثابت شي، د پاکستان له خوا به پرې فشارونه ورزیات کړي. دا خبره اوس ثبوت اخلي چې طالبان هم د امریکا د پرمختللو وسلو په شان خپل تکیتکونه په ډول ډول بڼو چې بریالي هم وي، اړولی شي. ښه نمونه یې په دې وروستیو کې هغه بریدونه دي چې له سړې نه پکې استفاده کوي او امریکایانو ته په سیمه کې زیات تلفات ورکوي. اوس امریکا د ملا ددې له سخت دریځې داسې ښکاري چې ده د امریکا ځملول یوازنی هدف او لوی ارمان دی، په هغه صورت کې ممکنه ده چې دی له نورو طالبانو سره خپل مزي وشلوي او له القاعده سره خپلې اړیکې نورې هم پخې کړي او د ملاعمر یا نورو پخلا شوو ملګرو سره راشه درشه بنده کړي.

ددې پلار د طالبانو د حکومت پر مهال یو وزیر و، خو اوس یې د زوی په متو شهرت نړۍ له ملا عمر سره اوړه پر اوړه پر مخ روان دی. ملا سراج نړۍ د سویل ختیځو سیمو مشري پرغاړه لري. چې په ډیره منظمه توګه خپل عملیات ترسره کوي. د تکتیک په بدلون سره هر برید یې بریالی دی. ښه نمونه یې یوه اونۍ وړاندې په امریکایي جاوسوسانو نیغ برید و چې په خپله اوباما یې هم هك پك کړ. دا تر اوسه ثابته نه ده خو تر ډیره داسې ده چې دا کار القاعده کړی او که القاعده کړی وي نو د ملا سراج اړیکې او ونډه په دغه برید کې حتمي ده. ځکه برید ددې تر کنټرول لاندې سیمه کې ترسره شوی دی.

دغه شان، د امنیت د شورا په خبرو کې کوم مستند لاسوندونه نشته چې طالبان دې داسې سره شنل شوي وي لکه دوی یې چې دعوه کوي. ددې خبرو اپوټه، په تیرو کلونو کې به د طالبانو بریدونه د ژمي په موسم کې په نشت حساب وو خو سړ کال مو ولیدل چې د ګرمیو په تناسب یې په ژمي کې هم بریدونه لا پسې زورور شول. او تلفات تر ټولو زیات بهرنیو ته اوړي. دا سمه ده چې د ځینو ضمني ملحوظاتو له امله به په دې دوه وروستیو اونیو کې یې په بریدونو کې کمښت راغلی وي، خو دا ددې تضمین له ځانه سره نه لري چې دا به همداسې پسې کرارېږي. راتلونکی کال به طالبان له نویو تکتیکونو سره د ۳۰ زره نورو امریکایي عسکرو پر وړاندې د جګړې میدان ته راوزي. خو وضعیت داسې جوتوي چې له دې وروسته به د تیر مهالویش په پرتله، په ژمي کې هم په ډول ډول تکیتکونو ددوی بریدونه امتداد کوي. دا چې په راتلونکې کې به څه ډول تکتیکونه کاروي، هغه بیله خبره ده. دغه شان، په پاکستان کې وضعیت په بې ساري توګه سرچپه پرمخ روان دی. طالبان هلته هم ورځ تر بلې خپل بریدونه له اطرافونه ښارونو ته غځوي. تر ډیره له افغاني طالبانو سره هماهنګ دي. په تیرو کې د پاکستاني طالبانو مشر ولي الرحمان ویلي وو چې دوی هم د غربیانو د جګړې لپاره افغانستان ته په زرګونو سرتیري لیږي. دا خبره به هم تر ډیره د تبلیغ په تومنه لړلې وي خو بیخي انکار هم تري په حقیقت پښې ایښودل دي.

دوام لرۍ....

اوباما؛ رییس جمهوری که به تعیین مهلت علاقمند است

منبع: فرانکفورتر آلگماینه آنلاین (آلمان)

بعد از اتمام دورهٔ ریاست جمهوری جورج بوش، این طور به نظر می‌رسید که دوران طنز سیاسی در امریکا بعد از هشت سال به پایان رسیده است. این در حالی است که در دوران ریاست جمهوری بارک اوباما نیز دلایل کافی برای ساختن طنز وجود دارد، چرا که مرور تحولات سیاسی دوران ریاست جمهوری بارک اوباما توسط منتقدان این کشور حاکی از آن است که شعار اوباما مبنی بر "بلی ما می‌توانیم" به طور کامل محقق نشد.

مسأله‌یی که بیش از پیش توجه به دولت اوباما را ذر سالی که گذشت پر رنگ می‌کند، میعادهای زمانی و جدول‌های زمانی متعددی



است که وی برای تحقق اهدافش تعیین می‌کرد؛ موعدهای زمانی‌یی که یکی پس از دیگری منقضی می‌شد.

در سالی که گذشت بارک اوباما، رییس جمهور امریکا، مجبور به پرداخت بهای سنگینی بابت لفاظی‌های خود شد؛ لفاظی‌هایی که با اشاره به میراث سیاسی شوم به جا مانده از جورج بوش سعی می‌کرد که مدام برای مردم امریکا بر ضرورت توجه به زمان تاکید کند؛ چرا که به عقیدهٔ وی و طبق اولین اظهارات اوباما، وضعیت امریکا در زمان شروع به کار وی به طور بی‌سابقه‌یی بحرانی بوده است. سیاست ناکارآمد و پر از نقص بوش، مشکلات زیادی را برای مردم امریکا و جهان به وجود آورده بود و باید هر چه سریعتر مشغول به کار شد.

اظهارات فوق بخشی از پیام‌های پر از عشق و علاقهٔ (!) بارک اوباما در نخستین روزهای شروع به کارش در کاخ سفید بود. اولین موعد زمانی تعیین شده از سوی اوباما مربوط به بسته شدن زندان گوانتنامو در کیوبا در تاریخ ۲۲ جنوری سال ۲۰۱۰ بود. اوباما در حالی موعد بسته شدن گوانتنامو را اعلام کرد که در اندک زمانی کوتاه بعد از آن مشخص شد که وی قادر به عملی کردن هدف خود تا این تاریخ نیست. اکنون نیز برخی از کارکنان وزارت عدلیهٔ امریکا در فکر خریدن زندانی در شمال غربی زادگاه اوباما هستند تا بتوانند، در این زندان تعدادی از ۲۰۰ زندانی گوانتنامو را نگهداری کنند. در این زندان قرار است، مراحل تشکیل محاکم نظامی نیز صورت گیرد. مراحل انتقال زندانیان گوانتنامو به این زندان هفته‌ها و حتا ماه‌ها به طول خواهد انجامید و طبق نظر سازمان‌های حقوق بشری، حدود ۸۰ تن از زندانیان گوانتنامو طی این مدت بدون هیچ محکومیتی، هم چنان در اسارت خواهند بود و به عبارتی "گوانتناموی شمال" ادامه و جایگزین زندان گوانتنامو است؛ گوانتناموی که اوباما وعدهٔ انحلال آن را داد، اما چیزی که اکنون وجود دارد، انتقال به جای انحلال است.

در مسایل سیاسی داخلی نیز اوباما به تعیین موعدهای زمانی بسیاری پرداخته است. چارچوب‌های زمانی‌یی که بارها کنگره با انتقادهایی، منقضی شدن آن‌ها را تحمل کرده است. اوباما در حالی از امضای قوانین جدید جوی و مربوط به انرژی تا پایان سال ۲۰۰۹ خبر داده بود که این قوانین حتا یک بار نیز در دسترسی

ص۳

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com